

# د غمونو تال

ناول

Ketabton.com

لیکوال: محمد صمیم ( فیضی )

ډیــزایــن: نصیب الله ( فیضی )

شمیرې: ۰۷۰۰۴۶۵۳۶۰/۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷

ketabton.com - The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

د کتاب پیژندنه

---

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د غمونو تال ( ناول ) |
| لیکوال: | محمد صمیم (فیضي) |
| ډیزاین: | نصیب الله (فیضي) |
| د لیکوال شمیره: | ۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷ |
| ډیزاینر شمیره: | ۰۷۰۰۴۶۵۳۶۰ |

ketabton.com - The Digital Library



**ډالۍ دی وي!**

زما ګران پلار او خورې خدای بښلي مور جانی ته

او خورو لوستونکو ته

هیله ده چی دغه یاد ناول راسره ترپایه ولولئ.

ketabton.com - The Digital Library



سلامونه

درنو لوستونکو هیله لرم چې روغ رمټ به یاست

په یاد ناول کې دردونووکې کیسه ذکره شوی

هیله ده چې د خوښي وړ مو وګرځي او ترپایه راسره ولولئ.

ketabton.com - The Digital Library



د پسرلي ښایسته او زړه وړوونکي موسم وو هرې خواته د مرغانو چغهارې وی...

د هوا پاکوالي لا ښایست ور بابښه،

په کابل کی د سهـــار اووه بجی وی چی د کوټې ور وټکېـــده:

رحمته و رحمته زویه ویخ یي که ویده؟

رحمت: ویخ یم مور جانې!

رازه چی ډوډئ تیاره ده ...

سمده مور جانې! دا دی راغلم.

پاســـېدم لاسونه او مخ مې پاک کړل او د کوټـــې پر لوري روان شـوم.

ډوډئ تیاره وه، سلام مې واچوه او غلي یو څنګ ته کښیناستم.

د سهرنۍ خوړلو وروسته د ښوونځي کالي مې واغوستل او د ښوونځي پر لوري وخوځیدم..

په لاره کې د خپل ملګري خالد سره مخ شوم،هغه زما ډېر پخواني،با تربیه او خوش اخلاقه

ملګرې وو.

خالد: سلام رحمته! سهار پخیر.

رحمت: علیکم السلام سهار مو پخیر..

خالد: آیا تا د جیولوجي مضمون په هکله څه معلومات لیکلي دي؟

رحمت: هو خالده! د شپې می پرې سوچ وکړ او څه نا څه معلومات مې را ټول کړ.

خالد: ما هم ځیني بشپړ معلومات را ټول کړي، هله ژر شه چي ځو.

د ښوونځي دروازه خلاصه شوه،دننه یو څو زده کوونکي څیرنه ( تالاشي ) کوله؛

ملګري مې راته وویل: رحمته ټلیفون خو به دې نه وي راوړی؟

که راوړي دې وي کیدای شي درځخه واخلي.

رحمت: نه یاره نه می ده راوړی هغه رانه مور مې واخیسته ویلی ښوونځي ته له ځانه سره مه وړه.

ketabton.com - The Digital Library



خالد: سمده رحمته هله رازه چې دننه ښوونځي ته لاړ شو؛

سمده خالده رازه چې د ولاړ شو.

لومړی درسي ساعت پای ته ورسید،ملنګ جان استاد راغې سلام یې واچوه موږ هم علیک کړ.

د جیولوجي مضمون ځیني نوټونه یې راکړل او ځیني درسونه مو هم

سره تکرار کړ ځکه چې څلور نیم میاشتني امتحانونو ته؛

پنځه لس یا هم شپاړس ورځې پاتې وې.

درسي ساعت ښه تیر شو او د تشریح په برخه کې مې هم ښه ونډه واخیسته؛

که څه هم د درسونو سره شوق او علاقه ډیره وه د ټولګي با استعداده او باتربیه زده کوونکې

سره سره د ټولګي اول نمره هم ومه.

د درسي ساعت پای وو چې ښوونکي راباندې غږ وکړ:

رحمته زویه! آیا تا د جیولوجي مضمون لپاره معلومات را نوټونه لیکلي دي؟

رحمت: هو معلم صیب! لیکلي مې دي،خو لږ دي ځکه لږ څه د کور په کارونو بوخت وم..

ښوونکې: پروا نه لري رحمته زویه،ته یې راکړه چې زه یې کتنه وکړم؛

رحمت: دادي معلم صیب واخله،ورقې مې ورکړی او معلم صیب له ځانه سره یوړل..

درسي ساعتونه پای ته ورسیدل او ښوونځي رخصت شو.

زه او خالد دواړه د کور په لوري وخوځیدلو په لاره کې مو ښه ګپ او شپ ولګاوه.

بالاخره کور ته ورسیدم،ساعت مې وکتل چې دولسو نه شل تیرې وې..

کور کې مې مور یوازې وه سلام مې ورواچاوه.

مور: پخیر راغلې رحمته زویه؛

رحمت: خیر یوسې مورجانې.

مورجانې اوبه شته چې ځان پاک کړم نن یو څه ګرمي ډیره وه..

هو زویه شته خو لږی مصرف کړه،ځکه چې څاه خرابه شوی ده نه پوهیګم چې څه پری شوي؟

ketabton.com - The Digital Library



ڤنګه خرابه شوې ده مورې؟

مور: نه پوهیګم زویه خو اخري ځل اوبه د زرمینی خور وریره مسکان یوړل.

لکه چې هغه څخه خرابه شوې ده،ما ویل چې ته راغلی جوړه به یې کړې..

د غرمې ډوډۍ می وخوړه، آذانونه لا وختي شوي وه ما هم مخ و لاس وکړ او د

جومات پر لوري روان شوم..

جمع خلاصه شوه ملا صاحب دعا کوله ما هم د الله(ج) دربار

ته لاسونه پورته کړل او ورڅخه می ګیله وکړله:

ای خدایه! کاش چې پلار می ژوندې وای لږ تر لږه خو می د سپیڅلي مور

اوښکې نه وای لیدلاې،ای پاکه ربه د کور د اقتصادي حالاتو خو ته هم خبر یی...

خبری می په ستوني کې وچی شوی او سترګې می له اوښکو ډکې شوې.

د الله(ج) دربار څخه مې لاسونه ښکته کړل او د کور پر لوري وخوځیدم.

څاه مي یو ډول جوړه کړه. په لومړي سر کې اوبه خړی وې خو لږ څه وروسته اوبه رڼې

شوې. مور می راباندی غږ وکړ:

رحمته زویه و رحمته زویه!؛

څه وایی مور جانې!

مور: هغه څاه جوړه شوه او کنه ؟

هو مور جانې! جوړه می کړه،یو سیخ په کی مات شوی وه

مور: سمده زویه! راځه چې پاک جامې می درته په خونې کی ایښي دي وایغونده.

سمده مورجانې! دا دی راغلم...

جامی می واغوسته درې نیمې بجی وې د بازار پر لوري وخوځیدم هلته مې د سیمساري

په یو لوی دوکان کی کار کاوه.

چی څه نا څه د کور خرڅ،خوراک او د بریښنا بیل به مو پری تاویلاوه؛

ketabton.com - The Digital Library



خو ښه و په هر حالت به مو شکر ويستو.

د سهار اتو بجو نه تر دولسو پورې په ښوونځي کې،اود دوه نيمو څخه تر اووه بجو پورې

په بازار کې وم.

ماښام قضا وو دوکان مې وتړه او د کور پر لوري روان شوم...

کور ته ورسيدم دروازه مې وټکوله چا خلاصه نه کړه.

مورې و مورې څوک شته؟ مورې زما غږ اورې دروازه خلاصه کړه؟

دروازه چا خلاصه نه کړه مجبوره شوم چې يه دېوال واوړم.

مورمې غالۍ(قالينه) بې هوښه پرته وه،اوبه مې پرې وشيندلې بالاخره په هوښ راغله

مورې څنګه يو ناڅاپه داسې شوې؟

مور: هيڅ خبره نه ده زويه لکه چې لږ مې سر راباندې وڅرخيده.

رحمت: مورې راځه چې ډاکټر ته ولاړ شو...

خبرې يې پرې کړې. نه زويه زه ښه يم،درته ومې ويل چې سر وڅرخيد.

رحمت: نه مورجانې بايد همدا اوس ولاړ شو. ډاکټر ته مې راوستله،د مايعاناتو وروسته

ډاکټرصيب راته وويل: چې هيڅ کومه ستونزه نشته،يوازې لږ فشار يې پورته تللی.

لکه چې خپګان يې کړای.

کور ته ورسيدو د شپې اتو نه به اوښتې وې،ډوډۍ مې تياره کړه او مور جانې ته مې ورکړه.

رحمت: مورې آيا تا کوم خپګان کړی دې؟

مور: نه زويه د څه شي خپګان به مې کړي وي...

رحمت: مورې! هغه تيره ورځ مې هم وليدلې چې تا اوښکې تويولې...

زوې جانه هغه به زه د تناره په غاړه ومه د لوګي له امله به مې سترګې له اوښکو ډکې شوې وې.

رحمت: نه مورجانې ته په کوټه کې ناسته وې، مور مې سر کښته کړ او څه يې نه ويل.

مور مې چې هر څومره وهسوله خو راته يې ونه ويل چې وجه يې څه ده.

ketabton.com - The Digital Library



خو زه پوهيدم چې يا به مې د پلار او يا هم د اقتصادي مشكلاتو له وجه خپگان كړي وي.

د جمعې مباركه ورځ سهار لمونځ مې وكړ او دعا مې هم ورسره وكړ.

د بالښت سره مې ډېره ولګوله همداسې په سوچونو كې ويده شوم.

د سهار نهه نيمې بجې به وې چې د باندې يو چكر ووتم،په لاره روان وم چې ناڅاپه

د يوې ښاپيرۍ سره اوږه ولګيده او د هغې كتابونه وغورځيدل..

رحمت: ښننه غواړم اغلې،ستاسو كتابونه وغورځيدل.

د غلچكو په انداز يې وكتل،د سوارلسمې سپوږمۍ په شان وه.

تورې غټې سترګې،جګه نرۍ پزه،دنګه ونه،خرمايي ويښتان...

وې ويل: پروا نه كوي.

نه پوهيدم چې څه يې ويل خو زه د نړۍ په رمانتيكه صحنه كې وم،د هغې هرالفاظ؛

لكه د ستار پسته موسيقي په شان و، او زما هر ويده شوې رګ يې په نڅا راوړ.

انجلۍ: ښننه غواړم ما وويل چې مرسته راسره كولاې شئ؟

هلک: هو هو ولې نه،څه مرسته درسره كوولاى شم؟

انجلي: دغه سودا لږ راسره د كوڅې پاې پورې وړلاى شئ؟

هلک: هو ولې نه .

دواړه روان وو چې ناڅاپه مې وويل:تاسو مې كله دلته نه وي ليدلي...

خبره يې پرې كړه او سترګې يې د زړه وړوونكو پشان پر ما ښخې كړې او وې ويل:

هو موږ هغه تيره اونۍ كډه راوړه،او تاسو چيرته اوسيږئ؟

هلک:موږ هم ستاسو څخه يوه كوڅه شاته ژوند كوو.

د انجلۍ په څهره كې خوښي راڅرګنده شو،دواړه چوپتيا خوره كړه څه ځنډ وروسته

انجلۍ وويل: ستاسو نوم څه دې؟

نوم مې رحمت الله دې خو دوستان مې رحمت بولي او د لغمان ولايت څخه يم او ستاسو نوم؟

ketabton.com - The Digital Library



انجلۍ: نوم مې فرزانه ده،زه کابلۍ یم،آیا تاسو زده کوونکې یاست؟

رحمت: هو د یوولسم ټولګي زده کوونکې یم. او تاسې؟

فرزانه: هو ما هم پروسږکال مې دولسم خلاص کړ.

رحمت: ډیر ښه د پیژندګلوي څخه مو مننه.

فرزانه: همدارنګه زه هم خوشحاله شوم؛.

هغه خپل د کور په لوري روانه شوه، ډیره مې خوښه شوه خوږه انجلۍ وه.

زه هم د کور پر لوري وخوځیدم چې په لاره کې زبیده په مخه راغله هغه زما د ترورو لور وه.

زبیده: سلام رحمته د یوې ښکلي انجلۍ سره هغه هم کابلۍ..

رحمت: ما له هغې سره مرسته کوله هغه... خبرې پرې کړې؛

لکه چې د مینې کیسه د که څنګه؟ که د مینې کیسه وي نو ماته یې پریږده.

ځواب مې ورکاوه خو له شرمه مې سر بیرته ښکته کړ.

زبیده: ښه رحمته زه درنه ځم چې میلمانه لرم په ترور مې سلام وایه..

رحمت: علیکم السلام، ته هم.

هغه خوږه ژبې او خوش اخلاقه انجلۍ ده، زموږ د کور په شا کوڅه کې اوسیږي.

خو بالاخره کور ته را ستون شوم،لاړم یو ګیلاس اوبه مې وڅښل او د الله(ج) شکر مې اداء کړ..

په کټ پریوتم او د فرزانې د ښایست نړۍ ته لاړم.

د غرمې وخت وه چې مور مې راباندې غږ کړ!

زویه پاڅه غرمنې دی وخوره د جمعې مبارکه ورځ ده جومات ته نه ځې؟

سمده مور جانې دادی راغلم.

غرمنی مو سره وخوړه،او اوداسه لپاره را پورته شوم؛اودس مې وکړ او د جومات په لوري روان شوم...

جومات ته ننوتو سره مې په ټیټ غږ سلام واچوه او غلی یو څنګ ته کښیناستم.

لمونځونه مو سره وکړل او هر څوک د خپل کور پر لوري لاړل زه هم د خپل کور پر لوري وخوځیدم..

ketabton.com - The Digital Library



د سهار تر ډوډۍ خوړلو وروسته د ښوونځي پر لوري روان شوم..

دا ځل خالد راسره نه وو ښوونځي خوند را نکړ هر درسي ساعت راباندې لکه کال تیر شو.

خو بالاخره رخصتي شوه او د کور پر لوري روان شوم او کورته ستړې او ستومانه ورسیدم

نن یو څه ګرمي تر دی مخکې ورځو ډیره وه.

مور مې راته وویل: ځویه غوړي او اوړه خلاص شوي دي!.

رحمت: سمده مورجانې زه به یی غم وخورم.

لاړمه خونې ته پیسي می وشمیرلی تقریباً دری نیم زره افغانۍ پاتې وی؛

د غرمي ډوډۍ خوړلو وروسته اودس او وروسته لمونځ می اداء کړ،د یوی نیمی بجی

نه اوښتي وی چې خپلی کوټی ته لاړمه،په کټ اوږد وغځیدم..

او د څو دقیقو لپاره خیالي نړۍ ته لارمه او د خپلی شهزادګۍ سره نښیدلم.

لکه چې خوب وړی وم خو چی را ویښ شوم د دریو څخه اوښتي ول ژر له ځایه پاسیدلم...

او د دوکان پر لوري روان شوم.

شپې لږ ناوخته کورته راغلم ځکه چی تردې مخکی ورځو نن یو څه کار ډیر وو

د شپې ډوډۍ مو وخوړه پسی وروسته لمونځونه هم وکړل او د ویده کیدلو نیت مو وکړ.

پر کټ اوږد وغځیدم،هر څومره چی هڅه می وکړه چی ویده شم

خو د عشقونو لړۍ پری نخوستلم،په همدی کی یو ځل بیا د سوچونو نړۍ ته لاړم؛

او هغه شهزادګۍ چی په غلچکو انداز یی زړه راڅخه وړې وه هغه سره په دریابو کي ډوب شوم.

د تلې د میاشتی اتمه نیټه وه چی د خپلی مینې د له کوڅی څخه تیریدم؛

چی ناڅاپه پر یو خط وویشتل شوم،خط مي اوچت کړاو د کور پر لوري روان شوم...

په هغه لیکنې یوه شمیره وه زنګ می ورته ووهه،اوکی یی کړ ومی ویل:

څوک یاست و می نه پیژندلۍ؟

فرزانه: زه یم فرزانه ته رحمت یی؟

ketabton.com - The Digital Library



رحمت: هو زه په خپله یم،څه مو ویل؟

فرزانه: هو څه می ویل هغه داسی څه چی تراوسه مې درته نشوای ویلای!

گوره رحمته زه مینه درسره لرم،بی له تا یوه شیبه هم نشم تیرولاې...

ما همداسی غوږ ورته نیولاې وو لکه یو بی روحه جسد او خولې څخه بی اختیاره ورته ووتل:

گوره فرزانې جانې که ته زما په غریبۍ او یا د پر محتاجی ملنډې وهی نو هیله کوم

داسی مکوه... خبری یی راته پری کړې گوره رحمته ما پر تا زړه بیللای..

زه نشم کولای بی له تا ژوند وکړم او پاتې شوه د ملنډو خبره،په کیږدۍ کی درسره؛

ژوند کوم خو چی له ما سره مینه وکړې.

گوره رحمته! ترهغه چی راته مثبت ځواب رانکړې نه یی بندوم.

ناڅاپه می سترگې پټی کړې او ورته می وویل:

زه هم درسره مینه لرم،بی له تا زه هم ژوند نشم کولای...خبره یی راته پری کړې

او بی اختیاره خندایی په خوله راغله او ټلیفون یی بند کړ.

د شپی لس نیمې بجې وی چی زبیدی ته می زنگ وواهه:

زبیده: سلام رحمته

رحمت: علیکم السلام څنگه یی زبیدې بنه یی؟

زبیده: شکر ده، خیریت خو به وي چی په دې نیمی شپی کی دی راته زنگ وواهه؟

رحمت: خیرو خیریت دی هغه یو خبره می درسره شریکوله.

زبیده:ووایه اورم!

رحمت:په هغه ورځ ما له فرزانی سره مرسته کوله چی تا ولیدلو او بیا دې چی راته وویل:

که د مینې کیسه وي بیایی ماته پریږده.

زبیده:هو په یاده مې ده ولی؟

رحمت: هغې ته دی زما په اړه معلومات ورکړي وو؟

ketabton.com - The Digital Library



زبیده: هو ستا د غیرت،دتربیې،استعداد او د ښایست می چی ورته وویل:

وی ویلې: چی هغه هلک زما په همغه لومړی ورځ خوښ شوی وو،او دا یی هم ویلی:

چی څه پروا کوي چی غریب وي که مالداره مقصد د ښو اخلاقو څیښتن وي...

ریښتیا هم زما د زبیدې خبرې ډیری خوښی شوی او ټلیفون می بند کړ او ویده شوم.

د سهار آذانونه وشول لومړې می اودس او لمونځ می وکړ،

بیرته د ویده کیدو په نیت پر کټ پریوتم چی ټلیفون وکړنګیده..

لاس می وغځاوه او ټلیفون مې اوکی کړ.

رحمت: بلی ګراني سهار پخیر!

فرزانه: سهار پخیر ګرانه شپه پخیر تیره شوه؟

رحمت: خیر یوسی مننه.

فرزانه: لمونځ دی کړی او که د لمانځه پر وخت می زنګ درته وواهه:

رحمت: هو ګراني لمونځ می وکړ پاسیدلې وم.

فرزانه: نور وختونه خو درته زنګ وهلې څکه ورونه مې خبر نشي..

رحمت: پوهیږم ګرانې پروا نه کوي؛

فرزانه: ګرانه غواړم چی یو بل له نژدی څخه وګورو وخت لری وزګار یی؟

رحمت: هو ګرانی زه هر وخت درته وخت لرم،سمده سره وبه ګورو..

فرزانه: مینه درسره لرم رحمت جانه!

رحمت: زه هم مینه درسره لرم.

ټلیفون مې قطع کړ،او بیرته د خوبونو نړۍ ته لاړم...

د سهار اتو بجو ته پنځه لس دقیقی به پاتی وی چی پاسیدم لږه راباندی ناوخته شوی هم وه

ژر ژر می د ښوونځي کالي واغوستل او د ښوونځي پر لور وخوځیدم..

په ټولګي کی اخری زده کوونکی زه وم چی ورسیدم،البته نورو به سهرنی هم خوړلی وه خوما نه وه خوړلې.

ketabton.com - The Digital Library



معلم صيب عبدالعزیز(نوري) راغی،هغه زمونږه د بیولوژي مضمون استاد وو

پر ما یی غږ وکړ: رحمته! د یوولسم(الف) ټولګي زده کوونکو ساعت خالي دی آیا کولای

شی چې هغوي ته د تفسیر او یا هم د نورو مضامنیو تدریس وکړې؟

که څه نور له درسونو څخه مې کرکه درلوده او څو ورځی ښوونځي ته

هم نه وم راغلي ،معلم صیب ته می د هو په نښه سر وخوځاوو او د یوولسم(الف) ټولګي پرلوري وخوځیدم.

په ټولګي کی شور ما شور وه زما په لیدو سره ټول غلي شول؛

کله چې می تدریس پیل کړ په لومړي سر کی می څه نه زده خو وروسته می هر څه یاد ته راتلل..

د تفسیر مضمون په هکله یو څه معلومات می ورته ورکړل،زده کوونکي غلي ناست ول او ماته غوږ ول.

د تدریس څخه وروسته بیرته خپل ټولګي ته راغلم خالد راباندی غږ وکړ:

راځه یاره بیخي ورک ورک یی،ښوونځي ته هم نه راځی خیریت خو به وي

لکه چې ورینداری له ښوونځي څخه منعه کړی یی که څنګه؟

رحمت: نه یاره هڅی می له ښوونځي څخه زړه تور شوی.

خالد: هغه څه وایی څوک چې مئین شي د ژوند څخه یی زړه توریږي

خو ستا یی له ښوونځي څخه زړه تور کړی؛

رحمت: نه یاره ته خو هم ولا چې.. خبرې یی پری کړی پریږم چې ما هیر نه کړې

که هیر دی کړم وژنمه دی رحمته!

رحمت: سمده نه دی هیروم بد به وکم چې هیر دی کم.

د رخصتی ساعتونه ول کتابونه مو راټول کړل او د کور پر لوري روان شوه...

کور ته ورسیدم په مور مې غږ کړ: مورې وه موری چیرته یی؟

مور: دلته یم زویه ځای پاک کووم،راغلی ځویه؟

هو مورجانې راغلم ما ویل که څه د خوړلو لپاره وي چې ویخورم؛؟

زوی جانه هر څه خلاص شوي هیڅ هم په کور کې نشته.

ketabton.com - The Digital Library



سمده مور جاني پروا نه کوي.

د اوداسه په لوري وخوځیدم وروسته لمونځ می وکړ او د الله(ج) دربار ته می لاسونه اوچت کړ:

ای پاکه ربه! څه کیږي چی پر مونږه لړ ورحمیږې؟

آیا ستا په رحمیدو سره به ستا په دربار کی کمې محصوص شي؟

ای خدایه! د دوو ورځو راهیسی مو ډوډۍ نه ده خوړلي د کور د حالتو نه خو هم خبر یی

نور نه پوهیږم چی کومه لاره ځانته غوره کړم مرګ یا هم ژوند، که مې د مور غمه را سره

نه وای ما به ځان لا وختي د زیندۍ کړای وای ای کاش!

دری ورځی هم په قرضو پور مو تیری کړی او د دوکان کاروبار هم ښه نه وو

څه به می کړي وای ما خو مخکی درته ویلي وو:

که د مور غمه می راسره نه وای اوس به زه هم د خپل پلار پشان په تورو خاور کی د چینجیانو روزي وای.

او دی حالاتو راڅخه مینه هم هیره کړی وه او د هغه سره کړی وعدې هم پوره نه شوی

خو خیر هغه هم زمونږه د کور د حالاتو نه خبره وه..

یوه ورځ د دوکان نه د کور په لوري روان شوم،په کور کی چوپتیا خوره وه چی مور می تر ډوډۍ

خوړلو لا وختي ویده شوی وه.

په تندي می ورته لاس کینوده لکه د اور پشان توده وه،زړه می وو چی ډاکټر ته یی یوسم

خو یوه روپۍ هم راسره نه وه هغه پیسی می چی نن ګټلی وی د کور لپاره لړ خواړه او د

کور د کرایی په قسط کی ورکړل.

بالاخره خالد ته می زنګ ووهه: بلی خالده اوری؟

هو اورم رحمته خیریت خو به وي؟

رحمت: خالده یو ضروري کار راته پیښ شوی که لږه مرسته راسره وکړې؟

خالد: ولی نه یاره امر کوه څه مرسته کولای شم درسره؟

ما ویل که لږی پیسی په پور راته راکړی هغه مور می لږه ناروغه وه...خبری یی راته پری کړ:

ketabton.com - The Digital Library



او ټيليفون يې قطع کړ.

رحمت: دا څه وشول لکه چې په غوسه شو که څنګه؟

لس دقيقې به تيرې نه وې چې د موټر هارنډ ووهل شو،د باندې ووتم ګورم چې خالد موټر

زمونږه د انګړ له دروازې سره درولاى وو، غږ يې کړ:

هله ژر شه رحمته چې ترور له خيره روغتون ته يوسو..

سمده خالده راځو لږ په تمه شه،مور مې څادري واغوسته او د موټر په لوري روان شوو

زه د خالد سره په لومړي سيټ کې کښيناستم.

موټر په چټکۍ سره د روغتون په لوري روان وو...

رحمت: خالده په دې شپه کې مې درته تکليف...خبرې يې پرې کړې:

ته خو هم ياره چې ستا مور د نو زما هم ترور ده،دومره حق خو راباندې لرئ؛

رحمت: مننه ډيره مننه!

خالد: پروا نه کوي ياره،ملګرې نور نو کومې ورځې ته په درد خوري؟

رحمت: هيله کوم خالده بيا هم مننه.

خالد: پروا نه کوي ګرانه!

روغتون ته ورسيدو تر معايناتو وروسته ډاکټر صيب راته وويل:

چې جدي مشکل نشته فقد له ولږې څخه ناروغه شوې ده...

هغه به نور څه هم ويل خو ما خپل سر په دواړه لاسونو کلک نيولاى وو

او له سترګو څخه مې د اوښکو څيلاب بهيده.

خالد: ولې ژاړې ډاکټر څه وويل خيريت خو به وي انشاءالله ؟

رحمت: په ژړغوني غږ مې وويل مور مې له ولږې له امله ناروغه شوې؛

خالده دا ټول زما له امله دا ورځې پر ځان تيروي..

کله چې به ډوډۍ تياره شوه نو مور به مې ويل چې ما ډوډۍ خوړلې ته يې وخوره ځوی جانه!

ketabton.com - The Digital Library



ای کاش چی زه پوهیدلای،داسی ولی وشول،رحمت د لیونیانو په شان له ځانه سره ګډ وو.

بیرته کورته راستانه شوو،د شپی څه کم لس بجې وی مور مې په بیله خونې کی ویده شوه؛

او زه تری خپلی خونې ته راغلم، پر کټ پریوتم او د سوچونو په دریاب کی ډوب شوم..

بالاخره یوه پریکړه می وکړه چې یو کار ځانته پیدا کړم،د ډیرو سوچونو له امله

د خوب ځپې می بانه په بانه سریښ کړ او په درانه خوب ویده شوم.

***

د کار د لټون په طرف روان شوم چی د لاری په سر کی زبیده را څرګنده شوه:

سلام! رحمته ښه یی، چیرته یی چی داسی په تلوار خوشی یی؟

ومی ویل: علیکم السلام، ولا ځمه چیرته کار ځانته پیدا کړم.

رحمته ترور څنګه ده خبره شوم چی شپې دی روغتون ته وړی وه؟

ښه ده شکر کومه جدي خبره نه وه، ښه زه به درنه لاړ شم چې ناوخته کیږي؛

سمده ګرانه په ځان پام کوه د خداي په امان.

د کار په لوري وخوځیدم.

هیڅ داسی کار راته په کابل کې پیدا نشو تر غرمی ورپسی وګرځیدم.

بیرته کورته را ستون شوم...

د غرمې ډوډۍ مې لومړی په مورجانې وخوړه او پاتې نوری بیا ما وخوړې.

د ماسپښین لمونځ مې وکړ او په خپل کټ اوږد وغځیدم.

لږ څه فکر او سوچ مې وکړ وروسته پریکړه مې وکړه چی باید قاچاقي ولاړ شم پاکستان ته.

د خوبونو ځپه یوځل بیا یی راته بانه په بانه سره سریښ کړ...

د همدې ورځی په سهار می مورته وویل: مورجانې غواړم یوه خبره درسره شریکه کړم؟

مور: داسی څه خبره ده زویه چی غواړی له ما سره شریکه کړی؟

موري دلته راته هیڅ کارهم نه پیدا کیږي پریکړه مې کړې چی پاکستان ته لاړ شم؛

ketabton.com - The Digital Library



مور: زویه آیا څه چې ته وایی بیرته یې اورې او کنه؟

زه به هیڅکله اجازه درنکړم چې ته دې مسافر شې پوه شوی او کنه زه په سړکونو

کښینمه خیر به ټول کړمه خو تا هیڅکله مسافری ته نه پریږدم..

د مورجانې هغه خبرې چې: زه په سړکونو کښینمه او خیر به ټول کړم...

زما په غوږونو کې یو نه ختمیدوونکې انګازې پیلی کړی

د غوږونو او پوزو څخه مې وینې راغلی او نور په ځان پوه نشوم.

خدایه دا زما په زوې څه وشول خدایه! که په د یو څه وشول نو ماهم واخله..

د رحمت ټلیفون می واخیسته او خالد ته مې زنګ وواهه:

خالد: بلې رحمته ښه یې؟

خالده زویه زه یم،ته راشه چې په رحمت یوڅه شوي..

ټلیفون لکه چې پیسی خلاصې کړی قطع شو.

خالده زویه راغلی ته وګوره په رحمت څه شوي که په ده یو...

تروري له خدایه خیر غواړه ..

رحمت مو په موټر کې واچوه او روغتون ته مو بوته.

تر معیاناتو وروسته ډاکټر راته وویل: ښاغلی خالده! آیا تاسو د رحمت ورور یاست؟

نه ډاکټرصیب زه د هغه ملګرې یم.

ډاکټر: خالده زه غواړم د یو راز خبره درسره شریکه کړم

خو لوظ راسره وکړه چې مورجانې ته به یې هیڅکله نه وایې؟

سمده ډاکټر صیب لوظ دی چې هیڅکله به یې ورته نه وایم.

ډاکټرصیب: سمده.ستاسو ناروغ یعنې رحمت د وینې په سرطان او د هغې مور جانه هم د زړه د حملې ناروغی..

خبری لا پوره شوی نه وی چی زه هم په ځان پوه نشوم.

ketabton.com - The Digital Library



ډاکټر: ښاغلیه! وه ښاغلیه تاسی ښه یاست؟

لږ څه ځنډ وروسته زه په هوښ راغلم. ډاکټر وویل:

چی تاسو ښه یاست ښاغلیه؟

خالد: هو ډاکټر صیب زه ښه یم خو کاش دغه خبره می درڅخه نه وای اوریدلی!

ډاکټر صیب څومره موده کیږي چی د سرطان ناروغی ورته پیدا شوی؟

ډاکټر: که یوه میاشت درمخه مو راوړی وای کیدای شو چی علاج مو کړای وای له بده مرغه!

ډیر خواشینې یم چی دغه ناروغۍ د ښاغلي رحمت په بدن کی وده یی کړی هر کله چی

د رحمت له پزی او یا له غوږونو څخه وینه راشي نو د مړینې امکانات یی ډیر وي،له وینې کیدو څخه

یی باید مخنیوې وشي،نور څه نشم ویلای خو دغه ناروغۍ به رحمت یو یا یو نیم کال ژوند کولو ته پریږدي.

خالد: ډاکټر صیب هو یوه خبره بله، د رحمت مور څنګه په دې ناروغۍ اخته شوې؟

ډاکټر صیب: نه پوهیږم خو کیدای شي چي د خپګان له امله رامنځته شوي وي.

د ډاکټر صیب له معیانه خونې ووتلم داسی قدمونه مې اخیستل لکه ښه نشه چی می کړې وي..

خو د ډاکټر صیب سره می چی کوم لوظ کړی وه د هغه له مخې لږ څه ځان سمبال کړ.

ترور: خالده زویه! ډاکټر صیب څه وویل؟

خالد: هیڅ فقط لږ د ګرمۍ له وجی بی هوښه شوې وو؛

ترور: خه دا وینې د څه شي ول آیا ته له ما څخه یو څه پټوې؟

خالد: نه تروري خدای دی نکړي زه به ولې تاسو څخه خبره پټوم تروري تاسو ته مې خو مخکې وویل:

چی د ګرمۍ څه حساب وو.

خالد: رحمت چیرته دې؟

ترور: لږ څه درملونه یی پاتی ول هغه ورته تیروي،څه ځنډ ناست وو چی رحمت راغی او د کور په لوري

مو حرکت وکړ.

***

زه په کټ کی پروت وم او سخته تبه وه راباندی چی مورجانه مې څادري اخیستی وه او وی ویل:

ketabton.com - The Digital Library



چې زه دی ترور کره ځم لږ په پور څه شي ترې راوړم.

سر می د هو په معنا وخوځاوه،یو یا یونیم ساعته پوری می مور را ښکاره نشوه زه هم ورپسی د باندی ووتم..

په لومړي سر کې می په سترګو لړه تیاره راتله خو بیا سمې شوی.

د ترور دوي کره می ورغلم او د مور پوښتنه می ورڅخه وکړه،خو هغوي وویل: دلته نده راغلې رحمته زویه!

زموږ د کورنه لږ څه وړاندی یو بازار وو چې خلکو به د کورونو یا هم د ځانونو لپاره د اړتیا شیان را نیول

لږ څه مخکې یوه ښځه مې تر سترګو شوه چې شین رنګه څادرې یې په سر و چې لاس یې د خلکو خواته نیولای وو

د خوږې مور هغه خبره را په یاده شوه چې: زه به په سړکونو کښینم او خیر به ټولوم خو تا مسافری ته نه پریږدم.

ناڅاپه یوه چغه مې د خولې را ووته د خلکو څخه مخکی مورجانې می غږ کړ:

زویه دلته څه کوې؟

چې ومی لیده دغه خیرغووښتونکی زما مور وه یوځل بیا په بازار کی بی هوښه شوم.

سهار وختې له خوبه پاڅیدم کار می چې وکړ د خط لیکل ول خپلې مورجانې ته:

سهار پخیر مورې! په دی هیله چې روغ او جوړ واوسئ،مورې زه ښښنه غواړم چې بی له اجازی

ستا ووتلم له کورنه، انشاءالله که د خدای(ج) رضاء وه په دوه ورځو کې به پاکستان ته ورسیږم؛

نو ستا څخه مې هیله دا ده چې خپګان راپسی ونکړې او د کور غم هم مکوه؛

ترڅو چې په کار کیږم خالد له تا سره مرسته کوي په لوی او ښنونکې څیښتن تعلیَ باندی دی سپارم.

څو جوړی جامی او د اړتیا ځینی شیان می له ځان سره واخیستل او له خونې ووتلم..

د مور په کتلو چې په ښایسته انداز سره ویده وه ژړا راغله او سترګی می له اوښکو ډکی شوی؛

د کورنه ووتلم یو ځل می زبیدې ته زنګ ووهه:

بلی زبیدی ښه یی سهار پخیر؟

زبیده: شکر ته خپله څنګه یی خیریت خو به انشاءالله؟

ketabton.com - The Digital Library



رحمت: يو واری دروازی پوری راشه کار لرم درسره.

زبيده: سمده راغلمه..

دروازه يی خلاصه کړه،پخير راغلی رحمته راځه دننه!

رحمت: مننه خوشحاله اوسي،نه زه درنه ځم پاکستان ته

زبيده: ټوکي کوې که څه بلا؟

رحمت: نه ټوکی نه کوم څه چی وايم رينښتيا دي،د کور نه پټ راوتی يم...

راغلم ما ويل چی دغه خط به ته فرزانې ته ورکړی،

او زما په خوږې مور پاملرنه وکړې تر څو چی بيرته زه راځم.

زبيده: رحمته! ګوره دادې ښه کار نه دی کړې..

نور می څه ورته ونه ويل او ننګرهار په لوری می حرکت وکړ.

موټر په يوه ساعت کی ډکه شوه او د تورخم په لوري مو حرکت وکړ،فکرونو کی ډوب شوی وم..

د ټليفون ښيښې ته می خيال شو چی د خالد نوم پری ليکل شوی وه او د هغې اړيکه وه:

خالد: سلام ياره څنګه د کور نه دی حرکت وکړ او کنه ؟

رحمت: هو ياره اوس تورخم ته نژدی يم.

خالد: دا څه وايی،ماته دی ولی خبر رانکړ تر هډی خو به مې رسولای وی

ډيره ناځوانه يی په خدای، يو تش زنګ دی هم ونه وهه؛

رحمت: ښننه غواړم ياره! ما ويل چی ته به ويده ځکه...

خبره يی راته پری کړ: بس که ياره دا خبری،رينښتيا ترور خبره ده چی ته ځې؟

رحمت: نه ياره يو ته او يو مې د ترور لور خبره ده بس. او هو رينښتيا د زما

د دوولسم اسناد درسره امانت وساته...

خبری می پوره کړی نه وی چی ټليفون می چارج خلاص کړ.

***

ketabton.com - The Digital Library



خدایه چی رحمت زوی به می لمونځ کړی وي او کنه، د شپې خو ډیر سټړی او ستومانه وو:

رحمته وه رحمته زویه ویخ یی که ویده؟

ځواب یی رانکړ لکه چی ویده دې .

دستګیر می کشه کړه دروازه خلاصه شوه ګورم چی رحمت په خوني کی نشته..

لړه وړاندی لاړمه پر کټ می یو لیکنه ولیده، خلاصه می کړه پکې لیکل شوي وه:

سهار پخیر مورې! په دی هیله چی روغ او جوړ واوسئ،مورې زه ښنه غواړم چی بی له اجازی

ستا له کورنه ووتم، انشاءالله که د خدای(ج) رضاء وه په دوه ورځو کې به پاکستان ته ورسیږم

نو ستا څخه مې هیله دا ده چې خپګان راپسی ونکړې او د کور غم هم مکوه؛

ترڅو چی په کار کیږم خالد له تا سره مرسته کوي په لوی او ښونکې څیښتن تعلیٰ باندی دی سپارم.

د خط لوستلو وروسته می پر سترګو تیاره راغله،غوږونه می انګازی کولی؛

سترګې می له اوښکو ډکه شوه.

د باندی ووتمه ښایسته باد چلیده پر کټ کښیناستمه چې زبیده لور را ښکاره شوه:

ستړې مشی تروري؟

خواره مشی لورې څنګه یی ښه یی مور دی ښه ده ؟

شکر ښه یم مور مې هم ښه ده، ته څنګه یی؟

زه به څنګه واوسم ته خپله ووایه لورې! چی یوه مور په دنیا کی یو زوی ولري

او هغه هم مسافر شي نو د هغه مور حالت به څنګه وي؟

د زبیدی سره می ښه ډیر وژړل،دومره می وژړل چې سترګې می سری واوښتلې؛

زبیده: تروری مه خفه کیږه الله(ج) مهربانه ذات دی هرڅه به ښه کړي انشاءالله.

بیشکه لوری! چی الله(ج) مهربانه ذات دې،خو کاش چی ماته یی خو ویلای وای؟

که په هغه یو څه وشي نو زه به څه کومه؟

زبیده: تروري غم مکوه زه درسره یم .

ketabton.com - The Digital Library



***

د شپې مو انتظار کاوه چې د تورخم له دروازې واوړو خو له بده مرغه پرې یې نه ښودلو،

سخته غوسه راغله خو ځان مې په واک کې کړ.

شپږ شپې وروسته د بولدک له لارې پاکستان خاورې ته داخل شوو،پاکستان هم د ښو منظرو لروونکی هیواد وو

که په صفت کی رانشي ښایسته هیواد دې،لاړمه پیښور ته د مردان په نامه یوه کلي کی اوسیدم..

پوره لس ورځې وزګاره وم خو ښه و هلته یو ودانۍ رغیدله او کارکوونکو ته اړتیا وه

ما هم په هغه کی کې برخه واخیسته؛

د میاشتې بغیر د خپل خرڅ نه دیرش زره کالدارې راکولی.

د شپې نهه نیمې بجې وې چې خالد ته مې زنګ ووهه:

خالد: سلامونه،هلکه ایله په بیله چې زنګ دی را ووهه زمونږه خو دی زاره را وچووله

چیرته یې چې ورک یې؟

رحمت: علیکم السلام،خالده ښه یې ولا همدی وران پاکستان کې یم.

څنګه یې نور په خپله ښه یې کورنۍ دی ښه ده؟

خالد: شکر ټول ښه دي خپله ښه یې د مسافرۍ ورځې شپې ښه تیریږي؟

رحمت: الحمد الله،مور نه مې احوال لرې ښه ده؟

خالد: هو شکر ښه ده،ستا د زنګ په تمه ناسته ده..

سمده خالده ته مې د مور شمیره راکړه... ښه خالده ښه شپه درته غواړم.

تر خدای په امانۍ وروسته مې خپلې ګرانې مور جانۍ ته زنګ ووهه:

رحمت: بلې مور جانې زه یم رحمت څنګه یې ښه یې؟

مور: رحمته زویه ته،غږ نه دی لوګی شم زویه دا دومره ورځې چیرته وې

او ولی دی زنګ نه ووهه زه خو دی په تشویش مړه کړمه

رحمت: هیڅ تشویش مکوه مورې اوس په کار بوخت یم ځانته می کار پیدا کړې..

ketabton.com - The Digital Library



مور: ښه زویه نور څنګه یی ورځو شپې دی ښه تیریږي؟

رحمت: الحمد الله،زبیده څنګه ده ښه ده؟

مور: داده زبیده هم موږ کره ده دا دی ورسره وغږیږه:

زبیده: سلام علیکم رحمته ښه یی؟

رحمت: علیکم السلام شکر ښه یم ته په خپله څنګه یی؟

زبیده: شکر زه هم ښه یمه...

لږه خبری مو سره وکړی او د زبیدی څخه می د فرزانی شمیره هم واخیسته.

پوره پنځه میاشتی نوری هم تیری شوی د کورنۍ اقتصاد مو هم ورځ په ورځ ښه کیده..

حتی خالد هم واده وکړاو لاړه یونان ته هلته یی ښایسته ژوند پیل کړ؛

ما هم د یو ورزشي صالون څوکیداري دنده په غاړه لرله.

په دومره کلونو کی لومړی ځل وو چی په ژوند کی مو یوه نوې ساه واخیسته

زما او د فرزانی د مینې کیسه هم ښه روانه وه او زمونږه د مینی همرازه زبیده هم کوژدن شوی وه..

زما د مور لویه هیله دا وه چی یوه ښایسته نګور ولري..

زما هم هیله دا وه چی له فرزانې سره واده وکړم.

د شپې می مور جانی ته زنګ ووهه:

رحمت: سلام  علیکم مورجانې څنګه یی؟

مور: ښه یمه رحمته زویه ته په خپله څنګه یی او مسافري دی څنګه تیریږي؟

رحمت: الحمد الله ښه یم د الله پاک شکر دې هر څه ښه تیریږي..

خبری می پوره کړی لا هم نه وې چی راته یی وویل:

زوی جانه غواړمه چی یوه ښایسته نګور کورته راوړمه ستا څنګه خوښه ده؟

مور جانی ما لا تر اوسه...

خبری یی بیا راته پری کړې. زویه زه پوهیګم چی کومه انجلۍ سره مینه کوې ماته هرڅه زبیدی ویلي:

ketabton.com - The Digital Library



زویه تا ځانته یوه مرغلره خوښه کړی ډیره ښایسته،اخلاقي او کاریګره انجلۍ ده

په دی نژدی ورځو کی به یی درته تری را وغواړم انشاءالله که د خدای(ج) رضاء وه..

ښه زویه زه درنه ځمه چی هغه دوډۍ می اچولی پخیدوته ونسوځي

سمده مور جاني د خدای په امان،مخه ښه مو سره وکړه او د اړکي پری کولو وروسته یوه ترخه مسکا می وکړه.

ورځی تیریدلی چی افغانستان ته د راتلو نیت مي وکړ د ۱۳۹۵ لمریز کال و چی افغانستان ته راستون شوم..

***

په ننګرهار کي ګرمي ډیره کمه شوی وه،هری خواته د خزان موسم ظلمي وحشت د ونو په پاڼو باندې وو.

د کابل هډی ته لاړمه هلته همغه پخواني حال وو هیڅ بدلون نه وو راغلی؛

په یوه زوړ ماډله بس کي وختلم او په یوه سیټ کي کښیناستم په موټر کی دوه ښځي دوه ماشومان

او یو د عمره پوخ سړی ناست وه چی په همدی وخت کي د اوو کلونو ماشوم د کاکا په جیب کی کانګي وکړل..

سخت مي زړه بد شو آفرین دې هغي کاکا ته یی.

لنډه دا چی بالاخره د افغانستان پلازمینی( کابل) ته ورسیدم او په یو الټو موټر کی خپل کلي ته لاړم..

د کلي په بازار کی د خلکو ګنه ګونه ډیره وه هری خواته د خلکو انګازی وه.

خپل کور خواته ورغلم چې هماغه شان لړ ړنګیدلي( خراب شوي) دیوالونه یی ول

د دیوالونو په لیدو سره می سترګی له اوښکو ډکی شوی همغه تیر وخت را یاد شو چی:

د ژمي موسم وو هوا ډیره سړه وه په کور کي مو بخارۍ هم نه درلوده.

دومره یخني وه چی مور می په یوه میاشت کي څو ځله د یخنۍ له وجی ناروغه شوه

حتی دومره ناروغه شوه چی د مرګ تر پولی رسیده.

یوه ورځ ډیر سخت باران وشو،د کور خونه مو څڅیدله د انګړ دیوالونه مو خامه و

ډیر پکی ویلی شوي وو،

په هماغه ورځ زما له پوزې ویني راغلل او بی هوښه شوم.. ډاکټر ویل چی د ګرمۍ له وجی دی.

خو زه نه پوهیدلم چی د ژمي په موسم کی هم زما ګرمي شوی وه

ketabton.com - The Digital Library



خو خير دومره غمونه مې ګاللي چې زما پرځای بل څوک وایی ځان وژنه به یی کړی وه.

د کور دروازه می وټکاوه.....

مور : څوک یی؟

رحمت: زه یم موری ستا نازولی زوی رحمت .

مور می د نوم په اوریدو ور چټکې سره پرانیسته زما په لیدو سره زړه یی را ډک شو او سترګی یی له اوښکو ډنډی شوی دومره یی ټینګ په غیږه کی یی ونیولم چی ما هم په خپلو سترګو کی د اوښکو څیلاب احساس کړ.

څو شیبی مو ښه سره وژړل. ځکه چی زړه می ډیر نری شوی وو.

د غرمی ډوډۍ مو وخوړه د اودس لپاره اوچت شوم،وروسته له اوداسه..

لمونځ می وکړ په دعا کی می لاسونه الله(ج) ته لپه کړه .

ای خدایا! له ډیر شکر ګزاره یم چی روغ رمټ دی خپل مور جانی ته ورسولم ای ربه څه کیږي دغه څپیڅلی مینه یو بل ته ورسوی....

دعا می پوره کړی نه وه چی مور را باندی غږکړ:

رحمته زویه راځه چی چای می درته دم کړی،ډیر وخت کیږي چی زما د لاس چای دی نه ده څښلای!

سمده مورجانې راغلم،جاینماز می ټول کړ او د خونې پر لوري وخوځیدم.

پوره یوه اونۍ تیره شوه،د دوشنبی ورځ وه چی مور مې خبره را په یاده کړه:

رحمته زویه! غواړم چې نن مازیګر د مرکې لپاره د فرزانې دوي کور ته ورشم ستا څنګه خوښه ده؟

رحمت: څنګه چی تاته منظوره وي مور جانې!

مور: دغه مور دې ترتا لوکی شي!

رحمت: خدای دی نه کړي زما خوږی مورجانې.

مازیګرې وو چی مور مې د مرکې لپاره د کورنه ووتله،زما هم خوب راغی او په درانه خوب ویده شوم.

***

مور: خدای خبر چی کور کې به څوک وي او کنه؟ دروازه مې وټکوله:

ketabton.com - The Digital Library



فرزانه: سلام علیکم خدیجی تروری ستړی مشي؟

د رحمت مور: خواره مشی لورې..

رازه تروری دننه!

سمده لورې راغلم..

ښایسته انګړ یی و د انګورو لپاره ښه غټه څپره وهلې وه ډیری ونې پکی ولاړی وې.

لاړمه دننه د فرزانې مور سره مې ستړې مشې وکړه ډیره سنګینه ښځه وه خو خاوند یی تندې تروش نیولی و ته به وایی چی قرض دارې واوسم.

لږې خبری مو سره وکړی،لږ ساعت وروسته خبره مې وریاده کړه:

خورې که ستاسو خوښه وې زه ستا دغه نازولې لور خپل زوی رحمت...

د فرزانې پلار زما خبرې یی پری کړې: په کومو سترګو دلته راغلی یی او زما لور خپل زوی ته اخلې؟

زه به هیڅکله خپله لور خیر خورې ښځی ته ورنکړم ته په شوې؟

په خولو کې ډوبه شوم او هغې هغه خبری چی( زه به هیڅکله خپله لور خیر خورې ښځی ته ورنکړم )

مې په ماغزو انګازی وهلې،هیڅ مې ورته نه ویل فقط دومره مې ورته وویل چی:

ستاسو لور زما له زوی سره مینه لرې..

د فرزانې پلار: څه تا څه وویل یو ځل بیاووایه زه پوه نشوم؟

ستا لور زما له زوی سره مینه لرې.

په غوسه ناکه لهجه یی خپل لور ته بدو ردې وویل....

په همدې وخت کی د فرزانې ورونه راغلل چی پلار یی وروړنو ته وویل:

وګوره دا بی شرمه او بی حیا خور مو د پردې هلکانو سره مینه کوې. امین په نامه هلکې چی د

انجلۍ مشر ورور معلومیده رامخته شو: آیا دا ریښتیا دې؟

انجلۍ د هو په مطلب سر وخوځاوه.

له دی وروسته بیچاره انجلی یی له ویښتانو ونیوله او څپیړی یی مخ ته نیولی وې..

ketabton.com - The Digital Library



له ځانه سره مې وويل: دا مې څه وکړل لکه چې خداي مکړه.....

خبرې مې بندې شوې هکه پکه شوم نور مې د خبرو کولو توان نه درلود فقط د هغوی

وحشتناکه ظلم مې لیده چې په انجلۍ باندی کاوه.؟؟

د انجلۍ مور راباندې غږ وکړ: اوس هم زمونږه مخی ته ناسته یی او خوند اخلی ووځه زمونږ له کور نه؟

ژر له ځایه پاڅیدمه او له انګړ نه د باندی ووتمه.

د شپې ټوله کیسه مې مور راته وکړه..؟

ماهیځ نه ویل یوائې مې اوښکې تویولې،په غوسه ناکه لهجه مې خپل مور ته وویل:

که هر څنګه وي زه له فرزانې سره د زړه له کومې مینه لرم..

خبرې مې پوره کړې نه وی چې یو دروند څپیړه مې احساسه کړه؛؟

مور: نور یی نوم مه اخله،ته خبر یی چې هغوي مونږه څومره بی عزته کړو..

ګوره زوی جانه له دغې انجلۍ تیر شه هغه د اکا لور دې سمینه به درته وکړم،آیا ښایست نلري؟

ښه اخلاقي،ښایسته او ګاریګره انجلۍ ده.

رحمت: بس مورې زه واده نه کوم که کوم نو له فرزانې سره به یی کوم..

خبرې مې مورجانې ته په تونده لهجه وکړ او خپلې خونې ته لاړم.

هیڅ خوب مې نه راتلو زړه مې ناکراره وو چی په فرزانې به یی څه کړې وي، نور مې طاقت ونشو

او فرزانې ته مې زنګ ووهه خو له بده مرغه ټلیفون یی خاموشه و.

په همدې سوچونو او فکرونو کې د خوبونو نړۍ ته لاړم او ویده شوم.

***

د سهار ټایم آذانونه وشول پاسیدم لومړې اودس او وروسته لمونځ مې وکړ..

د لوی الله(ج) دربار ته لاسونه لپه کړل او خپلې مینې ته د رسیدو لپاره دعاګانې وکړې

پرکټ پریوتم او یوځل بیا مې د فرزانی نمبر ډایل کړ:

کومه شمیره چې تاسو ډایله کړې اوس مهال د لاسرسی وړ نه ده مهرباني وکړئ وروسته زنګ ووهئ..

ketabton.com - The Digital Library



بیرته پر کټ وغځیدم او یوځل بیا د سوچونو خواته لاړم..

د سهار یوولس بجی وی چې لوی بازار ته ولاړم ،هغه بازار ته په موټر کی پنځه دقیقی لاره وه.

بازار ته ورسیدم هلته د خلکو ګڼه ګونه بیخي زیاته وه،

یوه سقاوې (د نارینه وو فیشن ځای) ته ننوتم،ویښتان او ګیره می جوړه کړه..

یوه نیم سل افغانی می سلمان ته ونیوه پیسې یی واخیست او مننه یی وکړه.

د سقاوې څخه ووتم د کوڅی له لاری غوښتل مې چی سړک ته واوړم چې ناڅاپه دروند ګوزار می

په سټ وخوړه او هرڅه راته تیاره ښکایدل او پر ځمکه پریوتم.

یوازې می د فرزانې ورور او د هغه سره نور لوچکان ولیدل نور زه هم په ځان پوه نشوم..

لږ ساعت وروسته مې کس تر سترګو شو چی احسان وو(زما د ښوونځي دورې ټولګیوال) بیرته می سترګې

پټې شوی.

رحمته و رحمته زما غږ اوری سترګې پرانیزه..

انبولانس ته می زنګ ووهه او رحمت مې روغتون ته راوړ،ډاکټر صیب دغه ناروغ عاجل دې

هغه یی د بستر خونی ته بوته،رحمت د کوما په حالت کی وو ډیر وهل یی خوړلي و.

د جلۍ کورنۍ د هلک په وهلو خبره شوه چی دا کار امین او د هغه ملګرو کړای انجلۍ چی کله خبره شوه

چی رحمت د کوما په حالت کی دی نو خپلی کورنۍ ته یی وویل:

تاسی د هغه بیچاره هلک څخه څه غواړئ،آیا زما په وهلو مو زړه یخ نه شو که په هغه یو څه وشي

سرته یی تمانچه ونیوله،نوزه به ځان وژنه وکړم او زما د مرګ لامل به تاسې یاست.

زه له رحمت سره مینه لرم،بی له هغی زه ژوند نشم کولاې..

پلار یی وویل: ګوره لورې پام چی داسی ونکړی هله ژر شه دا تومانچه دې له سر نه لیری کړه؟

پلاره که غواړی چی موږ یو له بله جدا کړی نو هڅه مه کوه ځکه چی موږ تر قیامته نه بیلیږو..

رحمت پوره یوه شپه په کوما کی وو خو مور یی خبره نه وه

ځکه هغه ته احسان ویلي وو چی رحمت اړین کار لري نشي کولای چی کورته راشي!

ketabton.com - The Digital Library



خو بیا هم مور یی ناکراره وه،او همدا یی ویل چی هغوي به زما په زوی یو څه کړي وي؟

د سهار په اتو بجو رحمت له روغتونه ووته او د کور پر لوري حرکت وکړ..

مور: رحمته زویه دا په تا څه شوي دا مخ دی ولی داسی شین دی؟

ما ټوله کیسه مي مور ته وکړه،دبیچاره او سپین سری مور خولي ته د هغوي لپاره خیرا څرګندي شوی...

د ماښام قضا وو چی دروازه وټکیده دروازه مي پرانیسته د فرزاني کورنی وه:

سلام رحمته زویه آیا دننه راتلای شو؟

هو ولی نه راځئ،کوټی ته می راوستل حیرانه وم چی داڅه خبره ده چی د فرزاني پلار راباندی غږ وکړ:

زه می د زوی له طرفه درڅخه بښنه غواړم؟

رحمت: پروا نه کوي اکا..

خوري له تا څخه هم بښنه غواړم په هغه ورځ چی می درته ډیری خبری وکړی!

مور می ورته وویل: د څه لپاره راغلي یئ او زما له زوی څخه مو څه غوښتل چی داسی حال ته مو ورساوه ووځئ مونږه له جونګړی نه؟

د فرزاني پلار: خوری مونږه درنه بښنه غواړو او راغلي یو چې روغه درسره وکړو..

او له خیره سبا ماذیګر دسمال هم درکړو..

ما هیڅ باور نه کاوه فکر مي کاوه چی اوس هم د کوما په حالت کی خوبونه وینم.

خو له نیکه مرغه دا خبره ریښتیا وه،د خوشحالی نه په جامو کې نه ځاییدم،مور مي هم د خبری په اوریدو سره

هرڅه هیر کړ او خوشحاله معلومیده او پاسیده د روغی په صفت د فرزاني مور ته یی غیږه ورکړه

ما هم خپل راتلونکي خسر ته غیږه ورکړه لږه خبری مو سره وکړی

او وروسته هغوی خدای په اماني وکړه او لاړل.

***

د ماسپښین لمونځ مي وکړ،نن د نورو ورځو په توپیر ډیر ستومانه وم پر کټ پریوتم

او د څو شیبو په ترڅ کي خوب یوړم..

ketabton.com - The Digital Library



یو خوب می ولیده چی زه،مور مې او فرزانه په یوه داسی نا آشنا ځای ته لاړ شو

چی هلته مې پلار هم وي.. ژر را ویښ شوم چی ساعت ګورم دری نیمی بجی وې

پاسیدم مخ مې پریمینځه او کوټی ته لاړم..

مورمې ځان تیاره کړی وه لږ ځنډ وروسته زبیده او د هغې مور رابنکاره شول هغوي هم زما له مور سره لاړل

د ماښام قضا و چی راغلل او دسمال یی راته راوړ..

لږ ټنګ ټکور مو سره وکړ او شپه مو ښه په خوند سره تیره کړه.

د پاکستان څخه یوه میاشت هم نه کیده چی راغلی یم،پنځه میاشتی وخت یی راکړ د واده لپاره..

یوه اونۍ می نوره هم په کور کې تیره کړه،د شنبې ورځ بیرته د پاکستان په لوري وخځیدم

پاکستان کې می په مشر باندی لږې پیسی هم پاتې وی.

بالاخره پاکستان ته ورسیدم خپل پخوانې د څوکیداري دنده ترلاسه کړه،ورځی تیریدلې زه هم په خپل

کار کی ریښتونی وم زما مشر هم زما د ریښتینولۍ له امله معاش هم زیات کړ.

د شپی می مور ته زنګ ووهه:

بلی رحمته زویه څنګه یی ښه یی؟

رحمت: شکر ښه یم مورې ته څنګه یی صحت دی ښه دی؟

مور: شکر زویه! زه ښه یم ته څنګه یی؟

رحمت: الحمد الله ښه یم...

خبری مو سره کولی چی ټلیفون چارج خلاص بیا می زنګ ووهه:

مورې ټلیفون می چارج نه لري خدای په امان.. خبری می خلاصی کړی نه وی چی ټلیفون چارج خلاص کړ..

تر خدای په امانۍ وروسته پرکټ وغځیدم او ویده شوم.

***

څلور نیم میاشتې نوری هم تیری شوی د واده نیټه می راورسیده ما هم د پاکستان نه د افغانستان پر لوري

حرکت وکړ..

ketabton.com - The Digital Library



د تورخم دروازې څخه افغانستان ته داخل شوم،داخل یوه سپینه سراچه کی راغلم کابل ته.

بالاخره د مور سپیڅلي غیږې ته ورسیدم،له مور سره می د پاکستان ځینې کیسی وکړل..

وخت ډیر په چټکۍ سره تیریدلی،حتی هغه شپه هم را ورسیده چی می د هیلې د پوره کیدلو وه یعنی د واده شپه..

سبا شپه می د نکریزو شپه وه،او نن مو خپل او خپلوان را وغوښتل.

تر ماذیگره کور مو له میلمنو ډکه شوه او د شپی مو د میلمنو لپاره ښه میلمستیا ونیوله د میلمنو لپاره:

وریژی،تازه د غوایی غوښه،قورمه او ځینی نو ترکاري باب پخیدل...

ما می مور ته وویل:مورجانې! له ما څخه د ناوې چِله(هغه ګوتمۍ چی د نکاح په مراسمو کې ناوې او زوم ته اچول کیږي) له حیره وتې زه به لاړ شم هغه راوړم او په ځان به لږ ګوتې هم ووهم!

مور: سمده زویه لاړ شه خو ناوخته نکړی چې میلمانه ستا لپاره راغلي..

رحمت: سمده مورې نه ناوخته کوم.

که څه هم د تره زامن مې له ماسره د تګ لپاره چمتو ول خو زه تنها می زړه غوښتل

او له کور نه ووتم د بازار پر لوري..

د ماذیګر قضا و لمونځ می په چمن کی اداء کړ او د زرپلورنځي خواته وخوځیدم،د فرزانی په خوښه

می چِله واخیسته د زروپلورنځي څخه ووتلم تر لږه لاره به تللی وم چی یو څو ناپیژندو کسانو له خوا

معاصره شوم هغوي سره د فرزاني ورونه هم ول.

امین راباندی غږ کړ: څه فکر کوی چی موږ خپله خور په اسانۍ سره تاته درکړه؟

رحمت: امین جانه دا ته څه وایی او دا هرڅه څه دي ؟

ناڅاپه مي یو سوک وخوړه،هرڅه راته دوه دوه ښکاریدل په ځان نه پوهیدم خو د هغوي د سوکانو او

لغتو احساس کاوه،سترګی می پټې شوی.

د رحمت د تره زوی احمد راغې او د رحمت په کتو یی یوه چغه کړه او امبولانس یی وغوښته.

احمد: رحمته سترګې پرانیزه څه کیږي رحمته و رحمته!

ډاکټر صیب دغه زما د تره زوی دی او د ناپیژندو کسانو له خوا یی شدید ګوزار خوړلي

ketabton.com - The Digital Library



او د پوزې ویني یې هیڅ نه دریږي.

دا هماغه ډاکټر و چې د رحمت په ناروغۍ پوهیده فقط سر یې ورته وخوځاوه او بیرنۍ خونې ته یې یوړو..

رحمت ته یې بریښنایي زورونه(شارت برقي) یې ورکړ څو ځله پرله پسې خو بیرته په هوښ رانغې.

ډاکټر صیب: له بده مرغه ستاسو ناروغ د سرطان ناروغي له امله مړشو..

احمد: څه ډاکټر صیب تاسو څه وایاست؟

ډاکټر صیب: ښاغلیه زه ډیر خواشینې یم خو ستاسو ناروغ د سرطان ناروغي لرله..

چې ما یواځې د خالد په نامه یو ځوان ته ویلي وو هغه ویل چې زه د رحمت ملګری یم ما هم د راز خبره ورته

وکړه نه تنها رحمت بلکې د هغه مور هم د زړه د حملې ناروغي لرله..

مورجانه یې هم خبره نه ده چې زوی یې د سرطان ناروغي لري، په ښښې سره..

د رحمت د مړ جسد او د هغې په لاس کی د نکاح چلی په لیدو سره احمد لکه د لیونیانو پشان

خپل ویښتانو کې ګوتې خښې کړی او چغې وهلې..

احمد خپل مشر ورور سمیر ته زنګ ووهه:

احمد: بلی وروره زما خبری اوری؟

سمیر: هو ستا خبری اورم ته می د رحمت پسی ولیږلی ته هم لکه چې پاتی شوې هله ژر راشئ

چې میلمانه ستاسو په تمه ناست دي.

وروره هغه رحمت هغه د....

څه خبره ده چې هغه او دغه وایی لکه چې ګونګې شوی؟

وروره د ابن السینا روغتون ته راشه... خبری می خلاصی کړی نه وی نور می ستونې په ژړا کی

را ډک شو او په چغو چغو مې وژړل..

سمیر را ورسیده:احمده دلته څه پیښه شوې..

سمیر د رحمت د مړ جسد په لیدو هک و پک شو هغی ته مې په ژړغوني غږ وویل:

رحمت د سرطان ناروغي لرله،ډاکټر صیب د رحمت ملګري ته ویلي وو چې نوم یې خالد و..

ketabton.com - The Digital Library



رحمت خدای بښلی د سرطان ناروغۍ لرله او د اکا ښځه(د رحمت مور)هم د زړه د حملې ناروغي

لري.حیرانه یم چې د رحمت مړی اکا ښځه وګوري څه به پیښ شي؟

د رحمت جسد مو یو امبولاس کی واچوه او د کور په لوري مو حرکت وکړ..

کوڅي ته په رسیدو او د امبولانس د غږ اوریدو سره ټول خلک د باندې ووتل..

خو خبر نه وو چې دغه واده دغمونو ټال له امله ټالۍ وهي

د اکا ښځه چې کله د خپل زوی مړ جسد ولیدو نو یوه چغه یی کړه او په ځمکه پریوته له خولی او

پوزی نه یی وینې راغلل د رحمت لاس یی خپل لاس کې ونیوه او هغه هم له فاني نړۍ هجرت وکړ

د کور هر غړي داسی ژړل ملیمانه،واره،زاړه سپین ږیري نه تر ځوانانو پورې رحمت او د اکا ښځې لپاره

سلګی وهلې څو تنو لا یکی بی هوښي هم اختیاره کړه..

د څو شیبو لپاره چوپتیا وه یواځی د سلګی وهلو غږونه پورته کیده چې ناڅاپه د ناوې له کور څخه د

ډز غږ راپورته شو خلکو د هغوي کور خواته منده کړه خو د رسیدو سره سم ناوې هم ځان وژنه وکړه او له د

فاني نړۍ څخه یی سترګی پټي کړې.ټولو د رحمت مړي ته کتل ما د هغه د لاس څخه د نکاح

چله راواخیسته چې په سرو وینو لړلي وو.

سبا سهر د ناوې،رحمت او د هغه د مورجاني جنازه ولمانځل شوه، انا الله و انا الیه راجعون.

## پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*